# لنډيز

طالبانو زما کورنۍ ته ویلي چې زما ورونه په لیست کې دي.... هغوی زموږ کور تلاشي کړ او زما مشر ورور یې ونیول. هغه دوه ورځې وروسته خوشې شو، خو په دې ورځو کې زما کشر ورور ونیول شو او تر اوسه نه پوهیږو چې چیرته دی، څنګه دی او که ژوندی دی.

– د افغان حکومت پخوانی چارواکی چې پټ دې، د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر ۹

دا راپور د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د ۴۷ پخوانیو غړو - نظامي پرسونل، پولیس، ملي امنیت غړي، او نظامي ملېشې - په خپل سري توګه اعدام یا په اجباري ډول ورکول مستند کوي کوم چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ څخه بیا د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د طالبانو ځواکونو ته تسلیم شوي یا نیول شوي. دغه راپور په غزني، هلمند، کندهار او کندز ولایتونو تمرکز کوي، خو قضیې په خوست، پکتیا، پکتیکا او نورو ولایتونو کې د راپور شویو سرغړونو پراخه نمونه منعکسوي.

دا راپور په ټولیز ډول د ۶۷ مرکو پر بنسټ جوړ شوی، چې د ۴۰ شخصي مرکو په ګډون په غزني، هلمند، کندز او کندهار ولایتونو کې ترسره شوي. د بشري حقونو د څار سازمان څېړنه ښيي چې طالبانو د اګست په ۱۵مه د افغانستان پلازمېنه کابل له نیولو راهیسې په تېرو درېیو میاشتو کې یوازې په دغو څلورو ولایتونو کې تر ۱۰۰ ډېر پخواني امنیتي ځواکونه وژلي او یا یې په زوره ورک کړي او د امنیتي ځواکونو پخواني غړو د کورنیو غړي یې هم په نښه کړي دي.

د طالبانو لخوا د پخوانیو حکومتي ملکي او نظامي چارواکو لپاره د بخښنې اعلان او د طالبانو مشرتابه ډاډ ورکولو سره سره چې دوی به د بخښنې له حکم څخه د سرغړونې په صورت کې خپل ځواکونو سره حساب او کتاب کوي، خپل سري اعدامونه او په زوره ورکیدنې ترسره شوي دي.

پر کابل د طالبانو د واکمنې څخه څو اونۍ مخې، په لویو ښارونو او مهمو لویو لارو کې د حکومتي چارواکو په نښه کولو په ګډون د انتقامي وژنو لړۍ مخ په زیاتیدو وه. دا خبره د جولای په میاشت کې څرګنده شوه، کله چې طالب ځواکونو د کندهار ښار په شاوخوا کې خپل عملیات زیات کړل او تسلیم شوي او نیول شوي امنیتي ځواکونه یې په خپل سري توګه اعدام کړل. د اګست له ۱۵ راهیسې په ګډون، ورته نمونې په ډیرو نورو ولایتونو کې راڅرګندې شوې.

طالبانو د خپلو استخباراتي عملیاتو او د استخدام ریکارډونو (اسنادو) ته د لاسرسي له لارې چې پخوانی حکومت څخه پاتې شوي، د نیولو او وژنو نوي هدفونه یې په ګوته کړي دي. باز محمد چې په اصل کې د پکتیکا ولایت اوسیدونکی و، په کندهار کې د ملي امنیت د ریاست له خوا په دنده ګمارل شوی و. د سپټمبر د ۳۰ په شاوخوا کې طالب ځواکونه په کندهار ښار کې د هغه کور ته راغلل او هغه یې ونیول. خپلوانو وروسته د هغه جسد وموندل. دا وژنه، چې پر هیواد د طالبانو شاوخوا ۴۵ ورځې وروسته ترسره شوه، د دې ښودنه کوي چې لوړ پوړو چارواکو د وژلو امر کړی او یا لږ تر لږه خبر وو. دې پرله پسې وژنو د پخوانیو حکومتي چارواکو او نورو په منځ کې ویره رامنځته کړې چې ممکن په دې باور وو چې د طالبانو واک به د وسله والې جګړې تاوتریخوالی پای ته ورسوي.

د طالبانو مشرتابه د افغان ملي امنيتي ځواکونو د تسليم شويو قطعو غړو ته لارښوونه کړې چې له دوی سره راجستر شي ترڅو يو ليک ترلاسه کړي چې د دوی خونديتوب تضمين کړي. د بخښنې د دې پروګرام له مخې، هغه کسان چې ثبت شوي دي د وسلو د تسليمولو سربېره، د ځانګړو اردو، پوليسو، مليشو، او د ځانګړو ځواکونو قطعو، يا قوماندانانو يا پخوانيو ولايتي چارواکو سره د اړيکو په اړه پلټنه کيږي. خو، طالبانو د نوم ليکنې په ورځو کې د افرادو د نيولو او خپل سري وژنو  يا په زوره له ورکولو لپاره له دې تاکتيکونو څخه کار اخيستی، د دوی جسدونه يې پرېښي چې خپلوان يا د سيمې اوسيدونکي يې ومومندي.

ډېرو افغانانو چې مرکې ورسره شوې وې وېره څرګنده کړه چې که دوی له طالبانو سره د بخښنې د ليک د ترلاسه کولو لپاره نوم ليکنه وکړي، ښايي وپېژندل شي او يا او له تاوتريخوالي سره مخامخ شي. په ورته وخت کې طالبانو هم هغه کسان لټولي او بنديان کړي دي چې په نوم ليکنه کې پاتې راغلي دي. د حکومت او امنيتي ځواکونو يو شمېر پخوانيو چارواکو په خپلو شخصي اړيکو تکيه کړې چې د درېيم کس له لارې د طالبانو ليکونه ترلاسه کړي. نورو، په مهمو دولتي پوستونو کې د ځينو پخوانيو ملکي مامورينو په ګډون، لکه قضايه، په دې نه پوهيدل چې دوی کولی شي د "بخښنې" ليک ترلاسه کړي او د دې کار نه کولو له امله - د وهلو او توقيف په شمول - له مجازاتو سره مخ شوي دي. حتی که د ليکونو څخه خبر وي، ډېری يې نه پوهيږي چې څنګه يې ترلاسه کړي، په هغو سيمو کې چې طالبانو د نوم ليکنې ځانګړي مرکزونه ندي اعلان کړي.

د افغانستان په کوچنيو ښارونو او کليو کې اوسيدونکي يو بل پيژني. د همدغو اړيکو له امله، طالبان که څه هم له سيمې څخه نه وو، توانيدلي چې معلومات ترلاسه کړي او همدارنګه هغه کسان وپېژني چې د تير حکومت لپاره يې کار کړی دی. دا کسان د پوښتنو يا نورو تحقيقاتو لپاره ګوښه شوي او ځينې يې په خپل سري ډول وژل  شوي يا په زوره ورک شوي دي. هغه کسان چې سمدستي  شوي اکثرا د ټيټ پوړ امنيتي ځواک غړي وو چې لږ پيژندل شوي يا د قومي مشرانو تر ساتنه لاندې نه وو، په ځانګړې توګه په جنوب کې.

طالبانو د امنيتي ځواکونو د پخوانيو پيژندل شويو غړو په لټه کې هم دي، چې اکثره يې د کورنۍ غړو ته ګواښونه او ناوړه چلند کوي، تر څو د پټو شويو کسانو ځای په ډاګه کړي. ځينې هغه چې بالاخره نيول شوي دي پرته له دې چې د دوی د توقيف او ځای په اړه يې چاته معلومات ورکړل شي، وژل شوي دي، چې دا د جبري ورکيدو جرم ګڼل کيږي.

جبري ورکېدل د بشري حقونو د نړيوال قانون له مخې د چارواکو له خوا د يو کس نيول يا توقيف او وروسته د ازادۍ د محروميت له منلو څخه انکار، يا د هغه د برخليک يا ځای نه په ډاګه کولو په توګه تعريف شوي دي. جبري ورکېدل د يو لړ بنسټيزو حقونو څخه سرغړونه کوي چې د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق[1] له مخې خوندي شوي، چې افغانستان تصويب کړي، د خپل سري نيولو او توقيف؛ شکنجه او نور ناوړه چلند؛ او خپل سري وژنو د ممنوعيتونو په ګډون.

د افغانستان پخوانيو حکومتونو، د ولسمشر اشرف غني په ګډون، په پراخه کچه د خپلو مخالفينو پر ضد له جبري ورکولو څخه کار اخيستی دی. طالبانو کله ناکله د شپنيو عملياتو په ګډون په ناوړه پلټونکو عملياتو کې هم برخه اخيستې ده، ترڅو شکمن پخواني ملکي او امنيتي چارواکي ونيسي او په په جبري ډول يې ورک کړي. د هلمند ولايت د مدني ټولنې يوه فعال وويل:

> د طالبانو شپني عمليات ويرونکي دي. ياد عمليات د پخوانيو امنيتي ځواکونو د بې وسلې کولو په پلمه ترسره کيږي چې وسلې يې ندي سپارلې. هغه کسان چې "نادرکه شوي" د شپې د عملياتو [قربانيان] دي. کورنۍ نشي کولی راپور ورکړي يا تاييد کړي. کورنۍ حتی نه شي کولی پوښتنه وکړي چې [سړی چيرته وړل شوی].

---

[1] د مدني او سياسي حقونو نړيوال تړون (ICCPR)، G.A. res. 2200A (XXI)، U.N. GAOR Supp 21. (نمبر ۱۶) ، د ملګرو ملتونو سند(1966) A/6316 .، ۹۹۳ U.N.T.S. 3، د جنوري په ۳، ۱۹۷۶ کې نافذ شو. افغانستان په ۱۹۸۳ کې ICCPR تصويب کړ.

دا وژنې او ورکېدنې په هېواد کې د نورو تاوتریخوالو په ترڅ کې رامنځته شوي دي. د اسلامي دولت د خراسان څانګه (ISKP)، چې د اسلامي دولت (داعش) پورې تړلې ده، هدفي وژنو او چاودنو ته دوام ورکوي چې طالبانو یې په ځواب کې په هغو ولسوالیو کې چې فعالیت کوي د تلاشۍ او توقیفونو په زیاتولو سره پراخ عملیات پیل کړي دي. د پخوانۍ ادارې سقوط د جرمي فعالیتونو د زیاتوالي او د محلي چارواکو په وړاندې د تاوتریخوالی په ګډون د انتقام اخیستلو لامل شوی دی.

طالب چارواکو په وار وار دا رد کړې چې ګواکې د دوی ځواکونو وژني او ورکیدنې کړي دي. خو، لکه څنګه چې طالب ځواکونه په هیواد کې کنترول لري، دوی مکلف دي چې د خپلو ځواکونو ټول غړي د بشري حقونو څخه د سرغړونو په اړه حساب ورکونه وکړي. زیاتیدونکي شواهد ښیي چې خپل سري وژنې او ورکیدنې، د نورو سرغړونو تر څنګ، د ولسوالیو یا والیتونو په کچه د طالبانو د لوړ پوړو مشرتابه لخوا ترسره کیږي.

د طالبانو لخوا د هلمند او کندهار ولایتونو له نیولو وروسته، د طالبانو د استخباراتو د څانګې جګپوړو قوماندانانو د افغان امنیتي ځواکونو مشهور قوماندانان او جنګیالي د توقیف او پوښتنو لپاره ونیول؛ ځینې یې په هغو کسانو کې دي چې په زوره نادرکه شوي دي. قدرت الله چې د کندهار ښار مشهور امنیه قوماندان دی، د ښار تر نیولو لږ وروسته د طالبانو د استخباراتي مامورینو له خوا ونیول شو، چې کورنۍ یې د ده د ځای په اړه له طالبانو څخه هیڅ معلومات نه لري. د بشري حقونو د څار سازمان په زیاتیدونکي توګه اندیښنه لري چې د لوړ پوړو طالب مشرانو لخوا د غچ اخیستنې وژنې اوس د یوې قصدي پالیسي بنسټ ګرځیدلی ترڅو د پخواني حکومت امنیتي چارواکي او نور په نښه کړي او ووژني.

طالبانو د سپټمبر په ۲۱ د بشري حقونو د سرغړونو، فساد، غلا او نورو جرمونو د راپورونو د څېړلو لپاره د یوه کمېسیون د جوړېدو اعلان وکړ. د نومبر تر 22 پورې، یاد کمیسیون د راپور شوي وژنو په اړه هیڅ ډول تحقیقات نه دي اعلان کړي، که څه هم د غلا په تور د طالبانو د څو غړو د نیولو او د فساد په تور د نورو د ګوښه کولو راپور یې ورکړی.

د بشري حقونو د څار سازمان د نومبر په اوومه د طالبانو چارواکو ته د خپل سري وژنو او ورکېدنو په اړه خپلې موندنې وړاندې کړې او د دغو قضیو په اړه یې د هر ډول څېړنو په اړه معلومات غوښتي دي. طالبانو په ځواب کې وویل چې ټول توقیفونه او مجازات د قضايي پروسې تعقیبوي او هیڅوک د محکمې [حکم] پرته نه مجازات کیږي. دوی وویل چې دا کسان د تېرو اعمالو په خاطر نه دي نیول شوي، بلکې [ځکه] نیول شوي و یا وژل شوي چې په نویو جنايي فعالیتونو بوخت وو... [او] د نوې ادارې پر وړاندې ستونزې او دسیسې جوړوي، [او] له هغو بدنامو اشخاصو سره اړیکې ساتي چې له هیواده تښتیدلي. دا زموږ پالیسي نه ده چې یو څوک له محاکمې پرته ووژنو، هغه که له داعش څخه وي او که د بلې ډلې څخه.» د دوی بشپړ ځواب او د تحقیق کمیسیون په اړه د ځینو اضافي توضیحاتو پشمول، په دې راپور کې د ضمیمې په توګه شامل شوي دي.

# وړاندیزونه

## طالبانو ته:

- د طالبانو د ځواکونو له خوا ټول خپل سري اعدامونه او جبري ورکیدنې پای ته ورسوئ، د داسې سرغړونو راپور شوي قضیې وڅیړئ، او د بشري حقونو د جدي سرغړونو لپاره د طالبانو چارواکي، قوماندانان یا غړي د باصلاحیته، خپلواکو او بې طرفه محکمو په وړاندې په مناسبه توګه عدلي تعقیب او محاکمه کړئ.
- ژر تر ژره د قربانیانو کورنیو او عامو خلکو ته د هغو کسانو د برخلیک یا ځای په اړه معلومات ورکړئ چې په زوره ورک شوي دي، او هغه کسان خوشي کړئ چې په ناقانونه توګه تر توقیف لاندې دي
- خلکو ته د ټولو اقداماتو په اړه خبر ورکړئ چې ځانګړي پرسونل د جدي سرغړونو لپاره حساب ورکوونکي وي. د جدي سرغړونو قربانیانو او د هغوی کورنیو ته خساره په  سمدستي او مناسب ډول جبران کړئ.
- د پخواني حکومت د چارواکو او د پخواني حکومت د نورو اړوندو کسانو، خبریالانو او د رسنیو د نورو کارکوونکو او هغو اشخاصو چې د طالبانو پر تګلارو او کړنو یې نیوکې کړي دي، د ډارولو، ځورولو او خپل سري مجازاتو ټولې کړنې ودروئ.
- ملګرو ملتونو، رسنیو او د بشري حقونو سازمانونو ته د افغانستان دننه د بشري حقونو په اړه د تحقیقاتو او راپور ورکولو لپاره د غچ اخیستنې او مجازاتو له ویرې پرته د بشپړ لاس رسی زمینه برابره کړئ.
- د افغانستان په اړه نوي ځانګړي راپور ورکوونکي ته، چې ټاکل شوی، بشپړ لاس رسی برابر کړئ او د ماموریت په پوره کولو کې له یاد راپور ورکوونکي سره همکاري وکړئ.

## ملګري ملتونو ته:

- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما) باید د بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه کړنو د څېړلو لپاره خپل ماموریت ته دوام وکړي او په بشپړ ډول یې پلي کړي؛ یوناما باید پدې قادر اوسې چې په ټول افغانستان کې په آزاده توګه د تګ راتګ وکړي او د توقیف ځایونو ته لاسرسي ولري؛ او په عامه توګه د بشري حقونو وضعیت په اړه راپور ورکړي او د چارواکو سره د بشري حقونو د وضعیت په اړه خبرې اترې وکړي.
- د ملګرو ملتونو سرمنشي د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په میاشت کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د یوناما د ماموریت په اړه په خپل راپور کې باید د ښځو او نجونو حقونو ته د ځانګړې پاملرنې سره، د بشري حقونو د سرغړونو د قوي څارنې، څېړنې او عامه راپور ورکولو په اړتیا ټینګار وکړي.
- د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړي باید د یوناما د بشري حقونو ماموریت پیاوړی کړي، او یوناما ته د دې ماموریت د پوره کولو لپاره کافي کارکوونکي او سرچینې برابرې کړي.

## د افغانستان بسپنه ورکوونکو (ډونرانو) ته:

- په عامه توګه او په دوامداره توګه په ملي، ولسوالیو او محلي کچه پر طالبانو فشار واچوئ چې په نړیواله کچه پیژندل شوي بشري حقونو ته درناوی وکړي، د خپل سري وژنو او د جبري ورکیدو پای ته رسولو، او د ناوړه سرغړونو مسؤولینو ته د جزا ورکولو پشمول.
- د غیر بشردوستانه موخو په اړه د مستقیمه مرستې لپاره ځانګړو  شرایطو وضع کول، تر هغه وخته پورې چې طالبان د خپلو نړیوالو بشري حقونو مکلفیتونو د پوره کولو لپاره د اعتبار وړ ګامونه پورته کړي.